مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۴/۰۴/۱۴

# حیاناکه مینه

ښکلی ماښام ؤ
چوپتیا خوره وه
د اسمان سترګه
په شفق سره وه
*****
رڼا وه ماته
تک تور غلیم ته
پاڼو نڅا کړه
ساړه نسیم ته
*****
لري له خلکو
بیالي په غاړه
زه هم ولاړ وم
دا هم ولاړه
*****
راته کتل یې
په مینه مینه
په مسېدو وه
ښکلي حسینه
*****
دا پوهېدله
زه سوځېدلم
دا سوځېدله
زه پوهېدلم
*****
سکوت بللي
نرمي سندرې
سترګو یې کړلي
د عشق خبرې
*****
په پټه خوله یې
کول ستونه
چي رانیږدې شه
واخله خوندونه
*****
بیا به وي چیري
ګوره دا ورځي
زمان نه ګوره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

ځومره ژر خوځې
*****
په ډېره تنده
پې ور رهي شوم
دا که سوراوروه
زه پې ستې شوم
*****
لاس يې امېل کړه
زما له غاړې
وې يې آزاد يې
هرڅه چې غواړې
*****
شونډې مې وروړې
د شونډو سر ته
ښه مې نيږدې کړه
ټينګه ځيګر ته
*****
له ملا يې تاو شوه
زما لاسونه
پر مخ مې پلن شوه
سره سره آهونه
*****
له ډېره جوشه
روغ ليونی شوم
د شوق په اور يې
وسوم ، لوګی شوم
*****
چې ځومې وس ؤ
هومره مې ښکل کړه
چې ځويې زور ؤ
هومره يې خپل کړم...
*****
ګناه مو وکړه
ښه نازنينه
مسته، سوځونکې
ډېره شيرينه
*****
مينه کې ورک وو
درزېدل زړونه
زمان په بېړه
وهل مزلونه
*****
خوږو لحظو نه
آخرله شا شوو
له يو او بل نه
بېرته جلا شوو
*****
چې يې له خوا نه
رهي کېدلم
دا وېرېدله
زه شرمېدلم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ